**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي تېوله هڅه د ژباړې د کره کولو د دې لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

# د افغانستان اسلامي امارت

## لوی څارنوالی

## د دارالانشاء ریاست

### د حکمونو، فرمانونو او لارښوونو د تعقیب آمریت

### د سندونو د تنظیم عمومي مدیریت

### د عادي سندونو او متحدالمال مدیریت

**د متحدالمال ګڼه (٦)** **نېټه: ۱۴۴۴/۱/۲۳**

د عدالت د تأمین، د اسلامي شریعت حاکمیت او د چارو د غوره ترتیب په موخه، ټولو مرکزي او ولایتي څارنوالیو ته د لاندې مواردو په اړه لارښوونه کېږي:

۱) د نوموړي متحدالمال د صدور له نېټې وروسته، هغه دوسیې چې د کشفي یا نورو ورته ادارو له لارې د څېړنې په موخه لېږل کېږي، مه تسلمیږئ.

۲) هغه دوسیې چې د څېړنې په هر پړاو کې قرار ولري او تر اوسه یې په اړه د محکمې پرېکړه نه وي شوې، ژر تر ژر د شرعي او قانوني فیصلې د صدور په موخه اړوندې محکمې ته ولېږئ او د مظنونیو او تورنو له نظارت، توقیف او پرېښودلو څخه ډډه وکړئ.

**په درنښت**

**مولوی شمس الدین شریعتي**

**د افغانستان اسلامي امارت لوی څارنوال**

دا سند د حقوقو د پراختیا نړیوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکمیت څارونکې ویبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ویبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.